PROPERTY OF ACKU



اخبار جهاد

کنړ - مجاهد اژانس :

د کنړ ولایت د اسامه بن زید له غونډ نه په یوه خبر کې ویل شویدی چې په ۲۰-۷-۱۳۶۳ نیټه د هغه غنډ مجاهدینو د سر کابو ولسوالی د ملحدینو پر یوی پوستی بانډی د دوه ساعته عملیاتو په نتیجه کې څوتنه ملحدین مردار کړی ، دوه ټانکسیرې ړوندې شوې او یوه هیلوکاپټر الوتکه د ډیکو یک د مرمی خوړلو په وجه د کنړ په میدانکی زالو یدلی ده .

کابل - اژانس مجاهد :

را پور عملیات جبهه چار دهی به تاریخ ۱۳۶۳-٤-٥ و اصل و ذیلاً تحریر نموده است :

مجاهدین قهرمان تحت فرمانده محمد داود بالای پوسته جکشن برق خواجه مسافر ساعت (۸) بجه شب حمله نموده که درین حمله یک عراده تانک دشمن تخریب و (۸) نفر عسکر کارملی به هلاکت رسیدند .

بتاریخ ۱۳۶۳-٤-۱۸ مجاهدین قهرمان در منطقهٔ کارته چهار بالای خانهٔ یک نفر عضو خاد که در آنجاعدهٔ زیا د ملحدین شراب خوری می نمودند حمله ور گردید . که در نتیجه عده زیاد آن مردار و یا شدیداً مجروح گردیدند .

کابل - اژانس مجاهد :

را پور عملیات جبهه ده سبز به تاریخ ۱۳۶٤-۷-٤ و اصل و چنین می نگارند .

بتاریخ فوق مجاهدین قهرمان راه حق اسلام تحت فرمانده زمری خان یک عملیات موفقانه در منطقه هود خیل کابل بالای روسها نموده که در نتیجه تلفات دشمن قرار ذیل است .

به تعداد (۱۳) نفر ملحدین مردار و به تعداد (٦) نفر شدیداً مجروح گردیدند .

و از برادران مجاهد دو نفر مجاهد هریک بریالی ولد راز محمد و نصیر احمد ولد محمد حسین به درجه اعلی شهادت نایل گردیدند .

غزنی- اژانس مجاهد :

را پور عملیات تاریخی ۵-۷-۱۳۶۳ مجاهدین ولسوالی مقر ولایت غزنی واصل و چنین تحریر نموده است :

بتاریخ فوق مجاهدین سربکف راه حق اسلام تحت فرمانده مجاهد دلیر برادر بلال بالای ملحدین فرقه (۱٤) غزنی حمله ورگردیدند که در نتیجه تلفات دشمن قرار ذیل است :

۱- دو موضع مستحکم دشمن توسط راکت های مجاهدین تخریب گردیدند .

۲- به تعداد «۵» نفر عساکر کارملی به هلاکت رسیدند . و به تعداد سه ۳ نفر مجاهدین مجروح گردیدند .

به تاریخ ۱۳۶۳-۳-۱۱ مجاهدین راه حق بالای ملحدین ولسوالی ناوه حمله ور گردیدند که در نتیجه تلفات دشمن :

۱۰- نفر خلقی ها مردار گردید و به تعداد سه (۳) میل اسلحه مختلف المنوع مجاهدین راه حق به غنیمت گرفته است .

غریزی غوښتنې او حتی ژوند ،مال او اولاد د ایډیالونو د غوښتنې لپاره قربانی کړیدی .

د ایډیالونو غوښتنه ترټولو خواکمنه ده :

یووړی انسان معمولاً **دوډی ته** ضرورت لری ، مخکی له دینه چی مذهب او یا کومې فلسفی ته پاملرنه وکړی خو دا د انسانی روحیاتو کوم عمومی قانون ندی چی اقتصادي ارتیاوته پاملرنه کول مونږ ته ترخپلو ایډیالونو ډیر ارځښت لری . او یا د ایډیالونو غوښتنه د اقتصادی شرایطو زیږنده ده . ز مونږ د دغی ادعا دلیل دادی چی ځینی داسی حالتونه سته چی د هغو په واقع کیدو سره مونږ دولږی د غریزی د اقناع لپاره هڅه نه کوو او نه د ځینی نورو مجبورولو غرایزو لپاره چی ز مونږ د ژوند بقا هم ورپوری اړه لری په تیره هغه وخت چی ز مونږ ایډیال له مونږ نه سرښندنه او قربانی و غواړی هغه وخت بیا مونږ دغه غرایز او حتی په بشپړه توګه د خپلو ایډیالونو لپاره قربانوو .

کله چی مونږ ترهرڅه مخکی خپلې اقتصادی ارتیاوی اقناع کوو ، نوکه مونږ دغه کار په شعوری توګه کوو او که په غیر شعوری توګه په حقیقت کی یی د خپلو ایډیالونو لپاره کوو ځکه مونږ د اقتصادی ارتیاو اقناع او ترسره کول د ژوند د بقا لپاره ضروری ګنو او ژوند باید د دی لپاره وکړو چی د خپلو ایډیالونو غوښتنې سره وزسوسره له دی چی د ایډیالونو خواک تل زمونږ په هر څه بشپړ کنترول لری خو مونږ بیاهم له نظره غورځوو . ان تردی چی مونږ خپلې اقتصادی ارتیاوی هم د ایډیالونو په غوښتنه اقناع کوو دا ځکه چی داسی ډیر کم پیښیږی چی د ایډیالونو خواک د دغو ارتیاوله غوښتنې سره مخالف او ضد واقع سوی وی خوکه چیرته مونږ غواړو چی د ایډیالونو په رینبتینو فطری اړیکو له ولږی او نورو اساسی اقتصادی ارتیاوو سره پوه سو ، او د هغی پر اساس یو عمومی قانون را منځته کړو ، نو مونږ باید هغه خاص حالتونه هم په نظر کی ولرو چی په هغوکی انسانی ایډیال د هغه له اساسی اقتصادی ارتیا وسره په تضاد او بر خورد کی واقع کیږی او مونږ وینو چی په دغه راز حالتکی انسان د ایډیالونو د مخالفت پر اساس خپل اقتصادی غوښتنې له نظره غورځوی . د مثال په توګه مونږ باید هغه سړی په نظر کی ونیسو چی له شتمنوالی سره د خپل خالق د رضا ترلاسه کولو لپاره په پرله پسی توګه روژی نیسی او یا د ورځی یوازی یوځل خواړه خوری او یاله نورونه هم د دغه راز سخت ریاضت کولو غوښتنه کوی او یا هغه سړی په نظر کی ونیسو چی د خپل مذهب لپاره شهید کیږی او یا هم د خپل هیواد او ولس لپاره . . یا هغه پیغمبر په نظر کی ونیسو چی د خپل ژوند په قیمت جګړه مار او پت پالونکی خلک یوه خدای ته د بندګی او سرښندنی لپاره رابولی او هیڅوک یی په هیڅ ډول نړیوال قدرت او بی حسابه شتمنۍ له کولو له خپلې ادعانه نشی اړولی او حتی د خوشیو لپاره یی هم له خپل دعوت نه نشی منحرف کولای او یا هغه شهزاده (۱) چی د خپلې پاچهۍ د قصر او مانۍ سوکالۍ ژوند په زښت زیات سخت او له کراوونو ډک ژوند بدلوی په مقابل کی یی څه اخلی ؟ نور هیڅ نه ، یوازی زښتولی او حقیقت . چی د مارکسیزم د فلسفی له مخی مجرد شعارونه دی او هیڅ ارځښت نلری . ولی یو انسان چی د عقل او کمال پو خوالی درلی ته وړسیږی د ژوند با ارځښته خیژونه (دوډی ، کور ، کالی) په بی ارځښته خیژونو (البته د مارکس په نظر) (آزادی ، عدالت . . . .) بدلوی ؟ د مارکسیزم فلسفی چی د انسانی فطرت د تحلیل په هکله کوم نظر وړاندی کړیدی په هغی کی د دغه راز حقایقو یوه معقوله توضیح

ممکن نده .

یو مارکسیست په دغه برخه کی بنایی له ژبات نه زیات همدومره څه ووایی چی هغه سړی چی په خپله خوښه خپل ژوند د خپل ملت او یا هیواد لپاره قربانوی ، هغه دا قربانی د دی لپاره نه کوی چی د ده ایډیال ګنی دی اقتصادی عواملونه پرته د یوه جلا او مستقل ځواک په توګه دیته ارکړیدی ، بلکه د دی عقیدی پربنا دغه قربانی ورکوی چی که دی په خپله له اقتصادی ګټونه بی برخی پاتی کیږی نو ملت او هیواد بی ارومرو له دغی ګټی نه برخمن کیږی خو دغه دول استدلال کول یو مخ اشتباه ده ، ځکه له مور سره په دغه برخه کی هیڅ مرسته نکوی چی دا څرګنده شی چی د ده د قربانی ایډیال ، په حقیقت کی د ځان لپاره ده د دوډی غوښتلو او یا نورو اقتصادی ګټو نتیجه ده ځکه چی ده خو په دغه لاره کی نه یواځی دوډی چی د ده د ژوند د بقا لپاره ضروری وه له لاسه ورکړه بلکه ژوند بی هم له لاسه ورکړ ، چی ده بی د بقا لپاره د دوډی په لاسته راوړلو پسی اړه (تلاش) کوله دلته د هر لوستونکی په ذهن کی یوه ساده او بسیطه پوښتنه منځته راځی ! او هغه دا چی که د یوه انسان د عمل او تحریک آړه پاروونکی قوه دا وی چی د خپل ژوند د بقا او تضمین لپاره په نړه توګه دوډی لاسته راوړی ، نو په پای کی به دی څنګه دیته چمتو سی چی د نورو لپاره د نړی دوډی برابرولو په لاره کی خپل ځان قربانی کړی ؟

که د ده د آړی پاروونکی انګیزی له مخی په دغه عمل قضاوت وکړو ، نو د یوه ساده او پوه سړی عقل هم دا حکم کوی چی دا به غوره وه چی په لږه دوډی بی قناعت کړی وای او ژوند ته بی ادامه ورکړی وای تردی چی خپل ژوندی له لاسه ورکړ او هغه هم د دی لپاره چی بنایی نور زما د دغه عمل له امله په سره ګیډه دوډی وخوری . دغی دول قربانی ته یوازی معنوی او مذهبی ارځښتونه انسان چمتو کولای شی . دا یو مثل سوی حقیقت دی چه ځینی وخت انسان په خپله خوښه سرښندنی ته چمتو کیږی . دغه حقیقت مور ته دا راښیی ، هغه غوښتنه چی دی بی دیته چمتو کړیدی چی د یوی موخی لپاره ځان قربانی کړی ، بنایی د ده لپاره تر ژوندانه ډیره ارځښتمنه وی ، دا که یوازی د ده لپاره ارځښتمنه وی او که د تولنی د نورو وګړو لپاره چی دی ورته ځان قربانوی ، خو په هر حال دا څرګندوی چی په خپل ژوند کی ورته تر هر څه ارځښتمنه ده او ضمناً بی تر تولو غریزو ځواکمنه هم ده دغه مسئله چی د وطن پال له مرګه وروسته د ده هیواد ته اقتصادی ګټه رسیږی ، دا نه ثابتوی چی ده په ریښتینه خپل ژوند د همدغی اقتصادی ګټی لپاره قربان کړیدی ځکه چی مور په دی پوره باور لرو او پوهیږو چی ده په ریښتینه دغه راز ګټه په لغته وهلی وه . د ده عمل د تولنی د یوه غړی په توګه دی سرښندنی ته نسی چمتو کولای ، بلکه د ده د سرښندنی لامل د یوه وګړی په حیث د ده د ایډیال محرکه قوه ده د تولنی د وګړو ګډ عمل باید د انسانی تولنی د هغو قوانینو اطاعت وکړی ، چی د هر انسان لپاره په بیګانه جلا ، جلا امر کوی تولنه د وګړو د یوی دلی نه پرته بل څه نه ده او د تولنی عمل هم د همدغی تولنی د وګړو د مجموعی اعمالو نه پرته نورځه ندی دغه‌نظر به په دی دلالت کوی چی حتی که یووګړی په یوه تولنه‌کی د تولنی لپاره عمل کوی نودی بی یوازی د هغو محرکاتو او غوښتنو پر اساس کولای

(نوربیا)

بسم الله الرحمن الرحیم

نبوی ارشاد

جاء رجل الی النبی ﷺ فقال ، الرجل یقاتل للمغنم ، والرجل یقاتل للذکر ، والرجل یقاتل لیری مکانه ، فمن فی سبیل الله ؟ قال من قاتل لتکون کلمة الله هی العلیا فهو فی سبیل الله .

ترجمه : یوسړی پیغمبر اکرم (ﷺ) ته راغی ٔ ویی ویل : یوسړی د ولجی لاسته راوړو لپاره ، څوک د شهرت لپاره او څوک د خپلی میرانی د ښکاره کولو لپاره جنګ کوی ، له دوی نه د کوم یوه جنګ د خدائی (ج) لپاره دی ؟

نبی کریم (ﷺ) و فرمایل ! یوازی او یوازی د هغه چا جنګ د خدای (ج) لپاره دی چی د خدای (ج) د کلیمی د لوړاوی لپاره جنګیږی .

وجه اشتراک : در خارج از کشور سالانه : ۱۲ دالر
شش ماهه : ٦ دالر
در داخل کشور سالانه : ۳٦ روپیه
شش ماهه : ۱۸ روپیه

آدرس مالک :
الاید بنک پاکستان - پشاور -
شیخ آباد برالج - نمبر جاری ۳۷۱

حضرت ابو بکر صدیق(رض) د خلافت پرمسند ټر کښیناستو وروسته د فرمایل :

خلکو ! ما ته ستاسی د حکومت چاری راوسپارل شوی حال دا چی زه ترتاسو غوره نه یم . ستاسی کمزوری ماته تر هغی خواکمن دی ، خو یی چی حق ورته وانه خلم ، او ستاسی ډیر خواکمن ماته تر هغی کمزوری دی چی حق ترینه وانه خلم .

خلکو ! زه ستاسی تریوه عادی سړی غوره نه یم ، که پر سمه روان وم نو پیروی می وکړئ ، او که پرکږه لاړم نو سم می‌کړئ .

حضرت عمر (رض) د یوی خطبی په ترڅ کی د خپل منصب تشریح داسی کوی :

زما اړیکی ستاسی له مال سره داسی دی لکه د ولی چی له یتیم سره وی . که زه دومره څه و لرم چی گوزاره می پری وشی نوهیڅ نه اخلم ، او که نه کیده د خپل خدمت په بدله کی به‌دومره څه اخلم چی روا وی .

پرما ستاسی یوڅه حقوق دي چی له مایی غوښتلای شئ ـ ماته ښایی څه چی الله تعالی تاسو ته په ځ او ولجه کی در کړیدي ، له هغوئه زیات محصول وانه خلم .

تاسی پر ما حق لرئ چی لاسته راغلی شتمئي له روا کارونو پرته بل ځای ونه لگوم .



بالاخره دیرش تنه ورسره پاتی شو د ما بنام تر لمانځـه وروسته د تیاری له خو ریدو سره سم دغه دیرش تنه هم بی وفا شو او مسلم ﷺ یی یواځی پر ینبود .

مسلم ﷺ نامیده شو د بنا ربه کوځـو کی یواځـی پاتی شو د یوی ښځی کور ته ورغی او د پناه اخیستلو غوښتنه یی وکړه کله چی هغی ته معلومه شوه چی دا مسلم ﷺ دی نو هغی ورته په کور کی پناه ، ورکړه خو د هغی زوی د ابن زیاد له وېری نه ابن زیاد ته خبر ورکړ ، ابـن زیاد «محمد بن اشعث» ته حکـم وکړ چی مسلم ﷺ گرفتار کـړه او را یی وله ابن اشعث له شپیته او یا سپرو سره یوځای هغه کور ته وزو رسیده، کله چی مسلم ﷺ دا سونـو شـور او ځـوږ واو ریده پلاس کی یی توره را واخیسته او بهر را ووت نه هغوی سره یی په جگړه پیل وکړ خو په پای کی د زخمونو له لاسه نا توانه شو څرنگه چی ابن اشعث هغه ته دامان ورکولو وغده ورکړه نو هغه هم تسلیمیدو تـه چمتـو شـو کله چی بیا ناڅا په لښکریانو په هغه حمله وکړه او توره یی ور ځغه واخیسـته نو دی پوه شو چی له ما سره ټگی وشوه هغه ابن اشعث ته ووېل :

« یقیناً چی ته به اوس ما له وژلو څخه بچ نکړای شی نو زما غوښتنـه دا ده چی ته حضرت امام حسین ﷺ ته دا پیغام ورور سوه ، چی د کوفی د خلکو د وفا داری په لا فوتیر نه وځی هغوی ستاسی مخالفت ته ملاتړ لی ده له خپلی کورنی سره ییر ته وطن ته لاړشه » .

ابن اشعث دا خبره ومنله او د «ایاس طایی» په لاس یی په همدی مضمون یو لیک حضرت امام حسین ﷺ ته ولیږه بیا هغه مسلم ﷺ ابن زیاد ته وروست د کوفی والی له هغه نه پوښتنه وکړه چی تا د کوفی په خلکو کی ولی تفرقه اچوله ؟ مسلم ﷺ ځواب ورکړ : ته غلط پوه شوی یی زما هیڅکله هم دا مقصد نه وه د کوفی د خلکو دا نظر وه چی ستا پلار د هغوی مشران او نور خلک وژلی وو او د خپلی حکمرانی په وخت کی یی د «قیصر او کسری» «دو دو نه را ژوندی کړی وونو له دی کبله موږ دلته راغلو چی عدل او انصاف ټینگ کړو او خلک په قرآن او سنت باندی عمل کولو ته را وبولو »

ابن زیاد د هغه پـه دی خبره سخت په غوسه شو او یوه عسکر ته یی حکم وکړ چی بام ته یی وخیژ وه او سر ئی ترینه غوڅ کړه عسکر فوراً د هغه حکم پرځای کوی د شهادت په وخت کی مسلم ﷺ په پر له پسی توگه تکبیر ، استغفار او درود وایـه .

دغه در دونکی سانحه د (۶۰) ه کال په نهم د ذالحجی پیښه شوه . ها ئی بن عسر وه هم ورپسی په شهادت و رسیده ابن زیاد د دغو د وارو شهیدانـو سرو نه د یزید دربـار دمشق ته ورولیږل . یزید یی په ځواب کی د خـو شی اظهار وکړ اولیک یی وز ولیږه چی : ما ته معلومه شویده چی حضرت امام حسیـن ﷺ عراق ته روان شویدی ته په کلـکـه د هغـوی د اعمالـو د جاسـوسـی انتظام وکړه په هر چا چی لږه اشتباه هم وشوه سمد لاسه یی بندی کړه او کله چی پری د بغاوت جرم ثابت شو نو وی وژنه ، ترڅو پوری چی ستاسو په مقابل کی چا توره نه وی را ایستی تاسو هم دا کارمه کوی ما له تولو حالاتو څخه وخت په وخت خبروی .

حضرت امام حسین ﷺ د خپل تره زوی د لمړی لیک په رسیدو سره کوفی ته د تلو تیاری و نیو حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ او

عبدالله ابن عمر رضي الله عنه دی ایساروی، ابن عباس رضي الله عنه ورته وویل چی که له دی ځای نه ځی نو یمن ته لاړشه هلته ستاسو مخلص حامیان هم شته عبدالله بن زبیر رضي الله عنه ورته وویل، چی د کوفی سفر پریږده خلکو ته د خلافت دعوت ورکړه موږ به ستا مرسته وکړو خو هغه سره له دی هم د ټلو اراده وکړه او په (۸) د ذالحجی (۶۰ هـ کال) له مکی نه عراق ته روان شو په «صفاح» ئو می ځای کی مشهور شاعر (فرزدق) نه یی د کوفی د حالاتو پوښتنه وکړه هغه ورته په ځواب کی وویل چی د کوفی د خلکو زړونه له تا سو سره دی خو توری یی له بنی امیه وسره .

د حضرت امام حسین رضي الله عنه قافله چی مخکی لاړه نو له مدینی نه یی د تره د زوی عبدالله بن جعفر لیک په لاس ورغی چی په هغی کی یی لیکلی وو: تا سو ځربیر ته را شی . ځکه چی هلته ستا سو د هلاکت او دا هل بیت د بربادی ویره ده بیا په ځپله ابن جعفر د مدینی د حاکم عمرو بن سعد دا پیغام حضرت امام حسین رضي الله عنه ته ورو رساوه چی تا سو له ده سره یو ځای را شی زه تا سو ته امان درکوم او د مرستی کولو ژمنه در سره کوم. خو حضرت امام حسین رضي الله عنه ابن جعفر رضي الله عنه ته ووویل «ما په خوب کی د رسول الله (صلعم) زیارت وکړ . هغه (صلعم) ما ته د یوه کار کولو حکم کړیدی هغه کار به زه حتما کوم که څه هم د هغی نتیجه هیڅ وی» .

ابن جعفر د یته لاړ شو چی بیر ته لاړ شی خو خپلو زامنو عون او محمد ته یی د حضرت امام حسین رضي الله عنه سره د ټلو حکم ورکړ او په خپله بیر ته مدینی ته لاړ .

حضرت امام حسین رضي الله عنه د مسلم رضي الله عنه له شهادت نه په(ثعلبیه) کی دد وه اعرابیانو له خوا خبر شو حضرت امام حسین رضي الله عنه (انا لله وانا الیه راجعون) ووایه ټولو ملګرو یی د بیر ته راګرځیدو مشوره ورکړه ، خو د مسلم رضي الله عنه ورو لو یی په کلکه مخالفت وکړ ځکه چی په هغوی کی د انتقام جذبه موجوده وه ، په همدی ټوګه د اهل بیت قافله مخکی لاړه او له څو چینو نه چی تیره شوه ، نو خلک ولړه ، ولړه ، ور سره یو ځای شول .

په دغه وخت کی د حضرت امام حسین رضي الله عنه رضا یی ورور عبدالله بن یقطیر د کوفی شا وخوا ته رسیدلی و هغه ته حضرت امام حسین رضي الله عنه د مسلم رضي الله عنه په نوم لیک ورکړی واو کوفی ته یی لیږلی و د پولیسو اعلی افسر حصین بن نمیر هغه و نیو او ابن زیاد ته یی ولیږه ابن زیاد هغه ته حکم وکړ چی د بام سر ته وخیژه او پر حضرت امام حسین رضي الله عنه لعنت ووایه ، ابن یقطیر بام ته وخوت او د کوفی او سیدونکو ته یی وویل « حضرت امام حسین رضي الله عنه تشریف را وړی د ابن زیاد په مقابل کی تا سو له هغه سره مرسته وکړی » ابن زیاد په غوسه شو او حکم یی وکړه چی له بام نه یی لاندی را وغور ځوی . ددی حکم تعمیل وشو ، عبدالله ئی لاندی را وغور ځا وه ، د مرګ سلګی یی وهلی او زګیر وی ئی کول د خلکو له جملی څخه یو سړی وروړاندی شو ، په توره یی ذبح کړ او له دغه کړاو څخه یی وژغوره پر دغه وخت یوا ستا ځی په لار کی د حضرت امام حسین رضي الله عنه قافلی ته په سخه ورغی او هغوی ته یی د مسلم رضي الله عنه وروستی وصیت وا وراوه په دی ټوګه حضرت امام حسین رضي الله عنه ته د مسلم رضي الله عنه د شهادت خبره یقینی شوه تر

دی وروسته حضرت امام حسین ﷺ خپلو مګرو ته وویل : زمونږ پلویانو زمونږ ملګرتیا پر ینبوده نو هر څوک چې ځی لاړ دی شی زمونږ لخوا به پر هغوی الزام نه وی ، ددی وینا په او ریدو سره یو شمیر خلکو په ټیر ته تلو پیل وکړ له هغه حضرت سره یواځی یو څو مخلص سړ ښندونکی ملګری پاتی شول .

د هجرت (٦١) کال او د محرم میاشت پیل شوه ابن زیاد د حضرت امام حسین ﷺ د شهادت نقشه او پلان برا برا وه د همدی مطلب لپاره هغه حجاز ته تلونکی لاړی او د کوفی په شا وخوا کی لښکری خبرې کړی تر څو چې له یوه نه یوه لښکر سره مخا مخ شی ابن زیاد ثراف نو می ځای ته د حربن یزید تمیمی په مشری یو لښکرو لیږه (وروسته بیا وویل چې د حضرت امام حسین ﷺ د قافلی مخه ونیسه، حضرت امام حسین ﷺ عراق لښکر ته د هغو له خوا د وړاندې ټولو لیکونو یادو نه وکړه ، له دی امله هغه وغوښتل چې ټیر ته د حجاز په لور سفر وکړی خو د لښکر مشر (حر) ې سزاحمت وکړ او ورته ې وویل :

« ما ته د جنګ کولو اجازه نشته خو دا تاکید را ته شویدی چې دوی بندیان کړه او کوفی ته ې را وړله ، ددی لپاره به دا ښه وی چې اوس تاسی یوه داسې لاره غوره کړی چې د عراق او حجاز تر منځ وی ، زه به په دغه وخت کی ابن زیاد ته یو خط ولیکم او تا سو ې یزید ته ولیکی ګوندی د خیر کومه لاره پیدا شی » .

حضرت امام حسین ﷺ د هغه دا خبره و منله او شمال ته د ټینوا په لوری روان شو د حر لښکر ورسره روان وو ، کله چې د اهل بیت د قافلی مخ د عربو د دښتی په لورو ګرځیده نو حر ټیر ته د هغوی مخه د کوفی لوری ته را وارا وه په دی توګه هغوی ټینوا ته ورسیدل او هلته ې خیمی و وهلی په همدی ځای کی حر ته د ابن زیاد لیک ورور سیده (حر) چې د ابن زیاد لیک خط ولوست نو حضرت امام حسین ﷺ ته ې وویل : ما ته حکم شویدی چې تا محاصره کړم او په داسی ځای کی د کوزیدو اجازه د رنکړم چې هغه سمسور وی او او به ولری نو له دې امله زه اوس تاسی په دی ځای کی نه پر یږدم » .

د حضرت امام حسین ﷺ یو سر ښندونکی ملګری زهیر بن قین هغه ته مشوره ورکړه چې موږ د (حر) له لښکرو سره همدا اوس ولی خپله فیصله ونکړو خو حضرت امام حسین ﷺ وفرمایل: « زه په جګړه باندی لمړی پیل نکوم » . قافله روانه شو او لږ شیبه منزل نه وروسته د فرات سیند ته نژدی د کربلا دښتی ته ورسیده، حر را مخکی شو او هغوی ې ایساریدو ته مجبورکړل همدا رنګه د حضرت امام حسین ﷺ کاروان د محرم په د ویمه هلته خیمی ووهلی. بله ورځ عمرو بن سعد له څلور زره لښکر سره هلته را ورسیده ، هغه حضرت امام حسین ﷺ ته یو سړی ورولیږه او پوښتنه ې ورڅخه وکړه چې تاسی د څه لپاره راغلی یی .

حضرت امام حسین ﷺ ځواب ورکړ چې (ستا سو ښاریانو ما ته ې شمیره لیکو نه را استولی وو او وزه ئې را غوښتی یم که تاسی زما په را تګ خوښ نه یی زه به پیر ته مکی ته لاړ شم) عمرو ، ابن زیاد له دی خبرو څخه خبر کړ ، هغه ورته په ځواب کی داسی لیک ورو امتا وه :

« له حضرت امام حسین ﷺ او د هغه له ټولو ملګرو نه د یزید لپاره بیعت واخله که هغوی بیعت وکړو بیا به ګورو چې نور څه وکړو ، او پر هغوی د فرات د سیند او به هم بندی کړی »



همدا رنګه عمرو بن سعد د محرم په او مه نیټه پنځه سوه سواره د فرات سیند ته ولیږل او دا تاکید یې پرې وکړ چې حضرت امام حسین رضی الله عنه او د هغه ملګرو ته یو ځای ځکې او به هم ورنکړي، کله چې د هغوی ټنده زیا شوه، نو حضرت امام حسین رضی الله عنه خپل میرئ وزور حضرت عباس ابن علي رضی الله عنه له پنځوس ټنو سره یو ځای د اوبو را وړلو لپاره ولیږه، هغوی له دښمن سره په جګړه، جګړه کې مشغولنه له اوبو څخه ډک کړه.

د حضرت امام حسین رضی الله عنه او د عمرو تر منځ یواځې خبرې اترې وشوې چې د هغې په نتیجه کې ابن سعد، ابن زیاد ته ځواب ور ولیږه چې حضرت امام حسین رضی الله عنه په دې درې خبرو کې د یوې د منلو ډمنه کړیده:

(۱) له کوم ځای نه چې راغلی دی نو همغلته به بیر ته لاړ شي.

(۲) د مسلمانانو یوې داسې سرحدي سیمې ته به لاړ شي چې زموږ زړه یې وغواړي.

(۳) د یزید دربار ته به لاړ شي او له هغه سره به خپله خبره فیصله کړي.

ابن زیاد له دې خبرو لمړی متاثره شو خو وروسته د شمر بن ذي الجوشن، په لمسه یې عمرو ته داسې ولیکل: حضرت امام حسین رضی الله عنه او د هغه ملګرو ته دا ووایه چې بې له کوم شرط څخه وسله وغورځوي، که یې وسله نو ما ته یې را ولیږه او که انکار یې وکړ پر هغوی حمله وکړه تر وژلو وروسته یې مثله کړه او پر سړي یې اسو نه وګرځوه ځکه چې باغي دي».

شمر دا لیک را واخیست، شمرو ته وغږېد؛ او ورته یې وویل چې: ابن زیاد دا تاکید کړیدی چې که شمرو ددې حکم له منلو څخه انکار وکړنو ته د پوځ قوماندې په لاس کې واخله او هغه ووژ نه کمه چې شمر د قوماندانۍ د غوښتنې یادو نه وکړه نو عمرو له خپل انجام څخه و ویرېده او په ډیره ټوره سخي یې د حضرت امام حسین (رض) قتل ته چمتوالی ښکاره کړ. هغه د محرم د لسمې په ما ښام د جګړې په ټیارې بوخت شو عمرو په دې شپه د حضرت امام حسین (رض) کیږ د یو ته ورغې او اخطار یې ورکړ چې تا سو باید له کوم شرط نه پر ته وسله وغورځوي، او که نه نو جګړې ته تیار شي.

د رسول الله لمسې ځواب ورکړ «چې موږ به ستا سو په غوښتنه فکر وکړو او سهار په قطعي ځواب درکړو». بیا هغه (رض) ځپلو ملګرو ته وفرمایل!: (زما او د دښمن ترمنځ سبا د وروستۍ پریکړې ورځ ده د هغوی کار پوازي له ما سره دی، نو له دې امله زه تاسې په خپلې سره رخصتوم، زما د کورنۍ له غړو سره شپې په ټیاره کې یوه خوا اوبله خوا لاړشي)

د دې خبرو په اوریدو سره ټولو په یوه اواز وویل: ترڅا

وروسته که سوړۍ وندی هم پاتی شو ټوخه به وکړو ، سوږیه متاثر څنګ ستاله دښمنا ټوسره وجنګیږو که هر ډول حالت په تاراشی هغه دی په سوږ هم راشی) .

حضرت امام حسین (رض) د خپلو ملګرو له دی خبرو ډیر زیات متاء ثره شو او هغوی ته یی د جنګ لپاره دچمتوکیدو حکم ورکړ دهغه(رض) زوی زین العابدین علی (رح) په خیمه کی ناروغه پروت و دهغه ټرور زینب(رض) د ناروغ پالنه کوله په خواکی یی د حضرت ابو ذر غفاری(رض) مړنی «جوین» ناست و او خپله توره یی پاکوله ، حضرت امام حسین (رض) دا شعروایه : (ای زمانی ډیر افسوس دی پرتا ! څومره بی وفا ملګری یی ، سبا سهار او ما بنام به څومره څوانان ستاله لاسه ووژل شی ، زمانه د چا بدل قبلوی ، اوس ټوله معامله د خدای (ج) په لاس کی ده . هر ژوندی د مرګ په لاره روان دی) .

د دی اشعاروپه اوریدو سره حضرت زینب (رض) په ژړا پیل وکړ حضرت امام حسین (رض) هغی ته د صبر اوزغم تلقین ورکړو او ورته یی وویل : «ای زما خوری ستادی په خدای (ج) سوګند وی چی زه مړشم ته دګر یوان مه څیروه خپل مخی دی په نوکانو مه نوکاری کوه ، ژړا چغی او کوکاری هم مه کوه.»

بیاهغه (رض) ټوله شپه په خیمه کی په لمانځه ، دعا او استغفار ونه کړه، ملګری یی هم په عبادت او استغفار لګیاوو ، د دښمن سپاره د خیمو څنګ ته ګرځیدل چی چاته د تیښتی لاره پیدانشی . نورینا



د رعکس جسد مطهر شهید ی از سلالهٔ بزرگوران را میبینید .

نقش روس
در تشکیل اسرائیل

تتبع و نگارش : سعید رسول

اطلاع حادثه کشتار (دیر یاسین و ناصرالدین) و عدم تکافوء عده عرب با یهود ـ این فشار را دوچندان کرد .

انگلستان اعلام کرد که اعزام نیروبه فلسطین قبل از پانزد هم ماه می که موعد خروج اخرین سرباز انگلیس است را تجاوز وتعدی بخود تلقی میکند وبا قدرت انرا سرکوب می نماید .

قوای انگلیس با برنامه و نقشهٔ مخصوص که سنجربه استحکام مواضع یهود و تسلط انان بر شهر های مهم می شد ـ خاک فلسطین را تخلیه میکردند . وقتیکه میخوا ستندیک منطقهٔ عرب نشین را تخلیه کنند از ورود نیرو های عربی جلوگیری میکردند و دست یهود را کاملاً برای تصرف ، ان با ز می گذاشتند .

فرمانده قوای انگلیس به انجمن محلی (حیفا) قول داد که تامام آگست امنیت (حیفا) را حفظ میکند و به همین دلیل مانع ورود قوای عربی به (حیفا) و دهات یهودی اطراف ان می شد و دهات عربی (حیفا) را خلع سلاح کرد . ناگهان قوای انگلیس (حیفا) را تخلیه کرده با نقشه قبلی ، یهود را کاملاً برسر عرب مسلط گذاشتند و رفتند .

تخلیه فلسطین تقریباً در همه جا با نقشه مخصوص استعمار گران بهمین صورت انجام میگرفت.

روز موعد تخلیه کامل (۱۵ می) فرا رسید در حالیکه تمام قسمت هاییکه از قرار تقسیم برای یهود تعین شده بود با اضافه منطقه های وسیعی از دولت عربی مثل (یافا) وغیره زیر تسلط یهود ماند .

به مجرد اعلام تقسیم فلسطین قوای انگلیس (تل او یو) را تخلیه . با خروج قوای انگلیس از (تل او یو) امواج پناهندگان یهودی که پس از خاتمه جنگ جهانی دوم در شهر های مختلف تحت تعلیمات نظامی بود ند به این شهر سرا زیر شد ند و سلاح های زیادی جهت انان ارسال شد . علاوه بر سلاح های ارسال شده ساز مانهای صهیونست تعداد زیاد سلاح و مهمات از اردو گاه های انگلیس تسلیم شدند . سا زمانهای صهیونست ـ با الاخص سا زمان (ارگون) بـر اردو گاههای قوای انگلیس حملات تصنعی نمود راه کار وا نهای انگلیس در حال خروج را سد نموده و پس ازیک نبرد تصنعی که بدون قتل و زخمی شدن فیصله می‌یافت سلاح هارا تصاحب می نمودند .

نیمه شب پانز ده ماه می ۱۹۴۸ رئیس دولت سرپرست با اعلان پایان دوره سرپرستی و تشکیل دولت اسرائیل از بند ر (حیفا) به سوی انگلستان حرکت کرد . در همان ساعت نیروی های عرب از شمال و مشرق و جنوب بـداخـل فلسطین خزیدند و دول عرب در همان ساعت بیانیه یی که عوامل اعزام نیروبه فلسطین را تشریح میکرد ، منتشر کردند

ومتن بیانیه رابرای تمام دول عالم دبیر کل سا زمان ملل فرستادند . این بیانیه تمام دوران جدید فلسطین را از ابتدای شروع انقلاب عرب با وعده های انگلستان گرفته و به اغلب حوادث مهم فلسطین از قبیل : وعده های کاذب انگلستان ، کتاب سفید سال ۳۹ ـ عهد شکنی های انگلیس ـ ایجاد اتحادیهٔ دل عربی و هدف آن ـ کوشش های مذبوحانهٔ امریکا و ملل متحد ـ قرار تقسیم ظالمانه سا زمان ملل ـ تجاوز و تعدی به اساس و پایه های ان سا زمان ـ آشوبهای ناشی از ان قرار و . . . اشاره کرده سپس میگوید :

اینک که دوران سرپرستی ، بدون اینکه فلسطین اثری از حکومت قانونی که حافظ حقوق و جان و مال مردم وصلح و امنیت باشد بجایان رسیده ـ حکومت های عرب اعلام می دارند که به مقتضای (منشور ملل متحد) با حق تعین سر نوشت فلسطین بخود مردم می رسد .

امنیت فلسطین کاملا مختل شده ـ نظم و نظام کشور بهم خورده تجاوزات صهیو نیزم با همکاری دول استعمار گردوصد و پنجاه هزار عرب را از آشیانه و دار ودیار خود بیرون و آواره و ویلان نموده است .

حوادث اخیر کاملاً پرده از روی منویات فاسد صهیونیست ها برداشت و جنایت های وحشیانهٔ انها مخصوصاً در دیریا سین و ناصرالدین و تجاوزاتی که در بیت المقدس سه قنسل گری های دول عرب کردند مقاصد پلید استعماری تجاوزکارانه انهارا برهمه کس روشن نمود .

. . . . دول عضو اتحادیه عرب مسؤول حفظ امنیت در داخل مناطق عربی هستند و حفظ امنیت فلسطین و دیعه مقدس بگردن انها است . برای سر و سامان دادن به فلسطین و جلو گیری از پیش آمد های که درد را غیر قابل علاج میکند و جلو گیری از سرایت این درد به ممالک عربی چاره ای جز دخالت مستقیم در فلسطین نمی بینند .

بالاخره نیروهای عربی وارد فلسطین شدند و دولت های عرب محاصره فلسطین را رسماً اعلام کردند و تمام کشتیهای که در ابهای اقلیمی عرب پیدا می شد باز رسی می نمودند سربازان مصر بهمراه عده یی از نظامیان سعودی و جمعی از دا و طلبان سودان ـ و مصر از مرز فلسطین گذشته تقریباً تمام منطقه بغیر از چند مستعمرهٔ دور افتاده ، تحت سیطره قوای مصر در امد . نیروی عراق پس از عبور از مرز ، مستعمره یهودی را در کنار نهر (یرموک) باد گرفته به پیش رفتند . قوای عراق مستعمرات و دهات فرا و ان یهودی را متصرف شدند . سر بازان سوریه و لبنان نیز به موفقیت های شایان دست یافتند . لشکر اردن نیز از خود رشادت و مردانگی نشان داده در قلب دشمن پیشرفت ـ

درظرف دو هفته جنگ علیرغم فدا کار یها و از خود گذشتگیها و استحکامات عملی و سنگرهای نظامی یهود ـ سربازان عرب بر تمام منطقه که در قرار تقسیم برای هریک معلوم شده بود به استثنای (یافا) و (الجلیل غربی) مسلط شدند و نزدیک بود ، مرکز یهود (تل او یو) فتح گردد ومقاومت انان بکلی درهم شکسته شود .

در چنین وضعی یهود از دول استعماری همکار شان طلب مداخله نمود . بنا بر سر درخواست امریکا و موافقت انگلیس و روسیه شورای امنیت ملل متحد تشکیل جلسه داد .

در سال ۱۹۴۸ م اسرائیل که به اراده و لطف استعمار بوجود امده بود دز و زطهٔ هلاکت قرار گرفت . جنگ اعراب و صهیو نیزم درین سال مشتعل گردید اما استکبار جهانی منجمله روسیه بالشوبکی

نگذاشت این طفلک نوزاد استعمار هلاک گردد. با آنکه صهیونیزم غاصبا ازطرف انگلیس برفرق اعراب جاداده شد اما نقش روس در تولد و دفاع ان در همین مقطع خاص زمانی با اهمیت تر و حیاتی تر بود.

روسیه شوروی که در طول جنگ هم با اسرائیل همکاری نموده بود به دفاع از صهیونیزم برخاست. گرومیکو که در انوقت نماینده شوروی در ملل متحد بود به تاریخ ۲۱ می ۱۹۴۸م به دفاع از اسرائیل گفت: (.. موقف که دول عربی در قبال مسألهٔ فلسطین اتخاذ نموده اند ـ مخصوصاً این حقیقت که دولت ها ـ یا اقلاً عدهٔ از انها به اعمال مثل فرستادن لشکر بر اسرائیل و اعمال نظامی دست زده اند قابل تأیید نیست. . . . . »

همینکه دول عربی لشکر شانرا به فلسطین فرستادند ـ دولت مصر علی الفور به تمام دول عضو ملل متحد به استثنای روسیه که به حمایت اسرائیل برخاسته بود نامه های فرستاده و طی انها از این تصمیم دولت به انها اطلاع داد که دولت مصر در امور فلسطین بخاطر احترام به قوانین اخلاقی بین المللی و منشور ملل متحد مداخله کرده.

مطبوعات شوروی حملات شدید الحن را بر دول عربی اغاز نموده حملهٔ نظامی شان بر اسرائیل را تقبیح نمود. روزنامه پراودا ارگان نشراتی حزب کمونست روسیه در شماره ۳۰ می ۱۹۴۸ نوشت: «عملیاتی که از طرف دول عرب انجام یافت بجز ازیک تجاوز بلا دلیل چیز دیگری توجیه شده نمیتوا ند»

نشریه (نووی و ریمیا Novye Vremya) که از مسکو نشر میگردید در شماره چهاردهم جون ۱۹۴۸ اش نوشت «. . افکار عامه مردم روسیه تجاوز دول عربی بر دولت اسرائیل را شدیداً تقبیح می نماید. . . . »



علاوتاً ـ گرومیکو در (۲۹ می ۱۹۴۸) در شورای امنیت ملل متحد اظهار نمود: «این به نفع ملل متحد بصورت عمومی و شورای امنیت ملل متحد بصورت خاص نخواهد بود که تخطی از فیصله های انرا که به قصد خاتمه جنگ صورت میگرد تحمل نماید. ما فیصله نمودیم که باید مسألهٔ فلسطین حل گردد اما دول عربی به این فیصله گردن نمی نهند» از اظهارات وی چنین پیدا است که او بخاطر اعراب از دادیهٔ ان صرفنظر نماید و به فیصله های ملل متحد که چیزی جز از منعکس کننده ارادهٔ استعمار بین المللی نبوده گردن نهند. به نظر (گرومیکو) فیصله ملل متحد بنا بر به رسمیت شناختن دولت غاصب ـ اسرائیل، حق و عادلانه و بخاطر پایان بخشیدن ـ جنگ اعراب و صهیونیزم بوده اما او غافل از این بوده که این فیصله بخاطر پایان بخشیدن جنگ نه بلکه بخاطر پایان بخشیدن به حقوق حقهٔ مردم فلسطین بوده است. گرچه گرومیکو که البته سخن گوی صادق کرملین یا به عبارت ساده رژیم دیکتا توری ستالین بود چنین می اندیشید که جنگ وبخاصمت اعراب و اسرائیل باید خاتمه یابد اما به نظر اعراب این آغاز شدت جنگ و جهاد در راه بدست اوردن حق شان بود.

در زمان جنگ «۱۹۴۸» اعراب و صهیونیزم روسیه شوروی کمک های حیاتی به اسرائیل غاصب

داد . تهیه سلاح های مدرن به اسرائیل از طریق چکوسلواکیا کـه آنهم دربلاک استعماری شوروی قرار دارد از مارچ (۱۹٤۷) اغاز یافته بود . صهیونست ها قیمت سلاح های مذکور را علی الفور پر داخته و آنرا به وقت مناسب به اسرائیل انتقال دادند . تحویل سلاح های مذکور بخاطر قادر نمودن اسرائیل به مقابله با اعراب بلا درنگ صورت گرفت . (شمیـول میکـونـس Shameul Miuknis) رهبر کمونیست های روسیه به اشاره (بن گوریو Ben-Gurio) به تمام ممالک اروپائی شرقی و روسیه سفر نموده درخواست تهیه سلاح به اسرائیل را می نمود . او کمک به موقع بلوک کمونیزم - در رأس شوروی - را طی مصاحبه یی چنین توصیف نمود : «اگر شمادرین مورد باندیشید این تنها روسیه شوروی و چکوسلواکیا بود که از ابتدأ جنگ ۱۹٤۸ - الی اخیر قاطعانه در پهلوی ما قرار داشتند . با انکه انهاروی دلایل خاص این کار را کردند اما این برای ما بی تفاوت بود . انچه ما ضرورت دا شتیم روی هر ملحوظی که بود رسید و ما از و رطهٔ هلاکت نجات یافتیم . همین کافی است .»

به تاریخ ۲۲ ماه می شورای امنیت بنا بر پیشنهاد انگلیس و توافق روسیه - امریکا و سایر قـدرت هـای استعمـاری ، دستـور آتش بس را صادر کرد که از نیمه شب (۲۲) می تا ۳٦ - ساعت بعد شروع به اجرا شود . اما دول رد نمودند که در فلسطین جنگ رسمی بین دو دولت نیست . عرب صاحبان فلسطین بایک جمعیت متجاوز متعدی که امنیت کشور شان رابهم زده و به مرد می که درخانه و اشیانه خود با ارا مش زندگی میکرده اند شبخون زده و انان را آواره نموده اند می جنگند که شرانا نرا کوتاه کنند ؛

دبیر کل اتحادیه عرب جواب ردي به دستور آتش بس شورای امنیت داد که قسمی از انرا ذیلاً میخوانید :

«قاطبهٔ عرب از استقرار صلح در فلسطین استقبال میکنند و چیـزی در نظر انهـا محبوبتر از آنکـه شواری امنیت جـواب مثبت بخواسته هاي آنان بدهد ، نیست و اگر عـرب می دانستند که باتش بس غارت و تجاوزات یهود خاتمه می پذیرد رفتار انها طور دیگری می بود . واینک چند سوال ازان شورای محترم می نماییم :

۱- ایا اجـرای آتش بس جلوسیل ورود یهود های غیر ساکنی را میگیرد.

۲- ایا قبول آتش بس - مانع رسیدن اسلحه از طرف دول استعمار گربه یهود خواهد شد .

۳- ایا با خاتمه یافتن جنگ ، یهودیان دست از چپاول و اخلال و تجاوز می کشند . وآیا خطر تازه ای برای عرب پیش نمی اید .

بهر صورت اتش بس با راول با ورود (کنت برنادوت) نماینده ملل متحد در پا یتخت هـای دول عرب در تاریخ (۱۱) جون ۱۹٤۸ برخلاف میل و اعتماد عرب از طرف هر دو جانب متخاصم پذیرفته شد و مدت آن ، چهار هفته تعیین گردید تا در طول آن فاجعهٔ فلسطین خاتمه یافته دست تجاوز از یخن عرب کوتاه گردد .

در موعد مقرر جنگ متوقف گشت و محیط آرام گرفت . حوادثی که در دوره آتش بس بوقوع پیوست روشن نمود که آتش بس فقط یک حیله بوده که بمنظور تحکیم و تقویت جبهه یهود انجام شده است .

طبق نقشهٔ استعمار گران - یهود بقدر کافی ازین فرصت بهره برداری کرده همه مقررات آنرا زیر پا گذاشته خود را کاملاً تقویت نمودند که آثارآن در جنگهای بعدی مصائب سنگینی بود کـه

بر عرب وارد آمد . با آنکه به موجب مقررات ترک مخاصمه ، طرفین مؤظف بودند در زمان اجرای آن از اقدام به تقویت نیروهای نظامی شان خود داری نمایند ولی اسرائیل ازین فرصت استفاده کرد و پناهندگان یهودی قرس را که مخفیانه وارد فلسطین شده بودند به استخدام در آورد ، تعلیم داد و بسیج کرد .

اسرائیل به این قناعت نکرد و مقدار هنگفت سلاح و مهمات در طول چهار هفته آتش بس از روسیه چکوسلواکی ، رومانی ، فرانسه ، انگلستان و امریکا بدست آورد . سیل سلاح ، مهمات ، طیارات جنگی ، توپهای سبک و سنگین و سربازان مسلح و افسران کار دیده و کار آزموده از زمین و آسمان و دریا بطرف یهود فلسطین سرا زیر شدند . (۱)

اسرائیل به تعداد بیست و پنج فروند طیاره تنها از چکوسلواکی خریداری و بصورت فوری وارد نمود . (۲)

یهود ان در طول ایام ترک مخاصمه با وارد نمودن سلاح و قوای بشری تازه توازن قوایین یهود و عرب را به نفع خود برهم زده قدرت تجاوزی شانرا تقویت بخشیدند .

جنگ به حمله قوای اسرائیل به اورشلم در نهم جون مجدداً شروع شد . در ۱۱ و ۱۲ همین ماه نیروی تقویت شده اسرائیل به شهر های (اللد) و (رومله) حمله کردند و پیش از اشغال مناطق مذکور اعراب را مجبور کردند این دو شهر را تخلیه کنند . سقوط این دو شهر بدست یهود و شکست لشکر اردن درین جبهه باعث شد که نیرو های عراق هم از (رأس العین) و قسمتی از (مرج ابن عامر) عقب نشینی کنند و به تصرف یهودان درآید . در شمال هم ارتش نجات فلسطین از قسمت های غربی و مرکزی (الجلیل) عقب نشست و شهر های (صفد ، ناصر و شفا عمر) به چنگ یهود افتاده و جمعیت خیلی زیادی از عرب را آواره و ویلان کردند .

شورای به اصطلاح امنیت ملل متحد . بمحض تجلیه و تشدید جنگ در پا نزده هم جون بار دیگر با چشم پوشی کامل از تخلفات یهود از مفاد قرار داد (آتش بس اول) فیصله نمود که طرفین مخاصمه باید از جنگ دست بکشند . شورای سیاسی عرب در هفد هم جون برخلاف افکار عامه عرب قرار شورای امنیت را پذیرفت اما درعین حال آنرا طی نامه یی به آن سازمان غیر عادلانه خواند . در نامه مذکر شدم بود که «تنها تفسیری که دول عرب از رفتار نامناسب شورای امنیت می تواند بنماید این است که بعضی ازدول بزرگ استعماری علاقه دارند بر خلاف حقوق عرب و مقتضای اصول بشریت بهرد...



نمونه یی از عدالت کمونستها (!)

ولا تحسبن الذين قتلوا في سبيل الله امواتا بل احياء عند ربهم يرزقون ٥

شہید پیغام

PROPERTY OF ACKU

را بر فلسطین مسلط کرده و صهیونیزم را به هدف نا مشروع اش برسانند . . »

(کنت بر نادوت) میانجی سازمان ملل متحد ، که به فعالیت های خود ادامه میداد در ۱۰ ستمبر گذارشی را که در بارهٔ فلسطین تهیه کرده بود تکمیل کرد . از اینکه گذارش مذکور از یکطرف به ضرورت تاسیس حکومت یهود اشاره کرده بود و از طرف دیگر محدودیت مهاجرت یهودی به فلسطین و عودت آوارگان عرب بود بالقوه محکوم گردید .

یهود از همان ابتداء مقررات ترک مخاصمه را مراعات نمی نمودند اما در (۱۵) ماه اکتوبر ترک مخاصمه به شدت نقض شد . چون ارتش مصر هنگام ورود به فلسطین از حمله بر املاک یهودیان اجتناب کرده انهارا دور زد و پشت سرگذاشت . در ضمن میانجی سازمان ملل متحد و مصر موافقت کرده بودند ما یحتاج یهود های عقب جبهه این مناطق از طریق هوا تحت نظارت سازمان ملل متحد صورت گیرد اما اسرائیل با کنترول سازمان ملل متحد مخالفت کرد از راه هوا اقدام به ارسال از وقه جهت یهودان اقدام کرد . چون پلان بنه ، دقت طرح شده بود طیارات اسرائیل با رسیدن بر فراز جبهه مصر به بمبار دو منطقه آغاز نمود و یهود های که در عقب جبهه مصر بودند ازقفا سر بازان مصری را مورد حمله قرار دادند . درین وقت گرومیکو از (احترام به فیصله های شورای امنیت) هیچ حرفی نزد و اسرائیل را محکوم نساخت .

قوای اسرائیل در ۲۳ دسمبر مجدداً به ارتش مصر حمله و در قلمرو مصر رخنه کرد . نیروی هوائی اسرائیل فرود گاههای (العریش) و (رفع) را بمبار دمان کرد . قوای مصری شکست خورد وان مملکت در ۲۴ فبروری ۱۹۴۹ تحت نظارت سازمان ملل متحد قرار داد آتش بس را در (روس) با یهود امضاء نمود . در سوم اپریل همین سال قرار داد آتش بس بین اردن و اسرائیل به امضاء رسید و ضمن آن مرز های منطقه یهود مشخص شد . لبنان در ۲۳ مارچ و سوریه در ۲۰ جون ۱۹۴۹ قرار داد آتش بس را با اسرائیل امضاء کردند .

جنگ فلسطین یک فاجعه در دانگیز است . محرومیت ملتی رانده از سرزمین خویش و تلاش ملتی دیگری که قصدریشه دواندن در همان سر زمین را دارد .

سربازان اسلام بعد از شکست و نابودی دشمن اشیای کار آمد خود را از وسایل مخروبه دشمن تهیه می نمایند

ژباړه : د «محمد لسیم ستانیزی

دمارکسیزم اشتباه

هغه عوامل چې مارکسي الواک یې د ملو وړخرګندکړي

د مارکس (Marx) الواک یوه سطحي لوستونکی ته د ملو وړښکاري او ظاهر بین کسان پرې تیروزی . دا ځکه چې :

(۱) دولیږی غریزه په طبعي توګه مجبورونکی ده او دوګړی په ژوندکی د هغه د ژوند له پیله را پیدا کیږی همدارنګه په تولنیزه توګه د انساني ډلو په ژوند کی هم له هماغه پیلیز پراو ځخه را پیدا کیږی چې د فکری ودی له پلوه د ماشوم توب په پراوکی پرتی وی، پر دغه وختکی د انساني ډلو ایډیال ځانته یوه ځرګنده بڼه نه وی غوره کړی ، او همدارنګه د ایډیالونو غوښتنی هم له غریزی غوښتنونه مشخصی او جلاسوی نه وی .

(۲) خلک ځکی له دینه چې د خپلو ایډیالونو سملاسی او مستقیمی ارتیاوی اقناع کړی لومړی د خپلی ولیږی غریزه اقناع کوی اوروسی د نورو غریزی غوښتنو په اقناع پیل کوی ځکه چې دوی باید لومړی خپل ژوند خوندی وساتی او هغه هم د دی لپاره چې د خپلو ایډیالونو د ترسره کولو لپاره د ژوند بقا او پایښت ته اړدی .

(۳) دوګړی ایډیال د خپلی پوهی په پلیزو پراووونوکی دیر لوړا او عالی نه وی له همدی امله د ده د بنیادی اقتصادی ارتیاو د ارضا او اقناع په جهت کی حرکت کوی. یا په بله وینا د ایډیالونو غوښتنې د بنیادی اقتصادی ارتیاو د ترسره کیدو د هیلی ترسیوری لاندی وی ، او حتی که د وګړی ایډیال دیر لوړا و عالی هم وی او دښکلا معیار ته رسیدلی وی ، دی بیاهم په عمومی توګه دیته اړدی چې خپلی اقتصادی ارتیاوی ترسره کړی، دا ځکه چې د دغو ارتیاوو ترسره کیدل د ده ایډیال او موخی ته ګټور دی . په دی توګه د ده په هغه کړنلو د اغیزه کوی چې دی یې د خپل ایډیال د لاسته راوړلو لپاره له تولو ځانګړتیاو سره ، ترسره کوی .

(٤) په یوه تولنه کی د ناوړه اقتصادی شرایطو د منځته راتګ عوامل د ناسمو ایډیالونو دحکومت نتیجه وی .

کله چې د یوی تولنی چاری د ناسمو ایډیالونو پربنا روانی وی، نو هلته ناوړه اقتصادی شرائط هم منځته راځی ، هغه وخت چې موږ د اقتصادی شرایطو په ناوړتیا پوه سولو سملاسی ورسره په حاکم ایډیال کی د نیمګړتیا او کمزورتیا هغه عناصرهم پیژندلای سو چې دغه اقتصادی ناوړه شرایطې را منځته کړیدی . تردی وروسته بیا موږ له دغه ایډیال سره ناخوښه کیږو او کرکه ترینه کوو ، چې په نتیجه کی د یوه سیاسی بدلون لپاره لاری چاری اوهواریږی ، د دغه سیاسی بدلون موخه

داوی چی د موجوده نیمګړی ایډیال پرځای بشپړ ایډیال (چې تر زیاتی اندازې پورې ز مور له طبیعت سره د هغو تجاربو له مخې چې لاسته مور اوږیدی توافق ولري) حاکم کړي . مور هڅه کووچې په نوی ایډیال کی هغه نیمګړتیا او نقص پرې نړد و چې په مخکینی ایډیال کی موجودو او ناوړه اقتصادی شرایطي را منځته کړی وو که مور د دغو معیارونو پر بنا استدلال و کړو چې دا زمور اقتصادی ارتیا وی دی چې ز مور د ایډیالونو په بڼه وده کوی) نوی دلیله جوته ده چې مور به په خپل استدلال کی ښوليدلی یو .

د انسان فعالیت د دوه پولو غوښتنو د ترکیب نتیجه ده : **لومړی د ایډیالونو غوښتنه او دویمه د غریزو د اشباع او اقناع غوښتنه** ، چې د انسان زیاتی اقتصادی ارتیاوی هم د هغې **غوښتنې زیرلړ دی** . خو دا تل وروستی غوښتنه ده چې د لومړی لپاره یې دوسیلې په توګه کار کړیدی، نوله دی امله فرعی غوښتنه (دویمه غوښتنه) هیڅکله هم د انسان د فعالیت اساسی او بنیادی لامل نشی کیدای سره له دی چې د انسان لپاره یوډیخیز (طبعی) او داخلی مجبوریت هم دی اوله هغه راهیسی موجود دی چې حاکمه غوښتنه (د ایډیالونو غوښتنه) لاپه بشپړه او څرګنده توګه پیژندل شوی نه وه .

دولیزی غوښتنه تر هرڅه څواکمنه نده :

په دی کی شک نشته چې دولیزی غوښتنه په خپل ذات کی مجبوروونکی ده خو که ارتیاسو ورته پینبه شی نو مور یې په بشپړه توګه اجبار تر تسلط لاندی راوستلی سو .

مور تر هرڅه لومړی دولیزی دا قناع لپاره هغه وخت اقدام کوو چې ز مور ایډیال یې و غواړی خوکه چیرې ز مور د ایډیال غوښتنه څه ښل شان وی نو هغه وخت بیا دولیزی اقناع ز مور وروستی اواخرنی هیله وی .

هر وخت چې د خلکو ایډیالونه تهدید شوی دی نو دوی دیته چمتو شوی دی چې ولیزی له اجبار سره مخالفت وکړی . په ډیر لږ څوراک قناعت کوی او هر ډول سرښندنی ته چمتو کیږی اوان تردی چې ځینی وختونه د خپلو ایډیالونو د غوښتنو لپاره ترمرګه پورې هم ځان وړی ساتی .

دا او داسی نور یې شمیرسنالونه مور ته رابنی چې د انسان لپاره ډیره بنیادی او ډیره نهایی غوښتنه ده نه دولیزی ، ځکه تش د خپلې ټولنو لپاره هیڅوک هم ځان په شعوری توګه نه وژنی . مور تل خپلې اقتصادی ارتیا وی هدف ته د رسیدو لپاره د یوی وسلی په توګه ترسره کوو او هدف موتل ایډیال وی . د دی حقیقت له موجودیت سره سره دا هم ووواقعیت دی چې ځینی وختونه د اقتصادی لورتیا غوښتنه په خپله زمور ایډیال بڼه غوره کوی په دغه راز حالتونوکی مور په دی نسو توانیدلای چې دشتمنی لرلوهیلی مخنیوی وکړو ، ځکه چې مور د دغی هیلی په وراندی بله لوړه هیله نلرو چې دا د هغی لپاره وسیله کړو بلکه همداسو په خپله هدف او موخه گرځیدلی ده . زمور د فعالیتونو وروستی هدف ایډیال دی انسان یې شمیره فرعی او ضروری اهداف لری چې باید مخکې تردی اساسی هدف ته ورسیږی ترسره یې کړی د هر فرعی اوآنی هدف ترسره کول د وروستی او اساسی هدف د لاسته راوړلو لپاره د بنسټ یوه ډبره ده داد ایډیال لپارهګټور دی خوځرنګه چې ایډیال له دوی نه پرته نه ترسره کیږی نو دا په خپله د ایډیال د ترسره کیدو په اندازه اهمیت او ارځښت پیدا کوی .

په دغه راز حالتګ مور تر هرڅه مخکې همدغه (فرعی او ضروری هدف) ته پاملرنه کوو . دا مور ته داسی څرګندیږی لکه چې مور دغه هدف ته له ایډیالونو څخه زیاته پاملرنه کوو په حقیقت کی که چې مور هڅه کوو چې یوهدف

تر سره ، کړو نړیوو دغه راز عمل یوازی د خپل ایډیال دلاسته راوړلو لپاره تر سره کوو . همدغه مسئله زمونږ د اقتصادی ارتیاوو د پوره کولو په پیښه هم صدق کوی . کله چی ز مونږ اقتصادی ارتیاوی د ایډیال لپاره د یوی مرستیالی وسیلی په توګه تهدید سی نو په خپله د ایډیال هوسه ارځښت پیدا کوی خوکه چیری دوی ته زیاته پاملرنه ددی لامل سی چی ایډیال له نظره ولویږی ، نو خپل ټول ارځښت له لاسه ورکوی ، چی په دی توګه وروسته بیا مونږ د ایډیال ارتیاوی د دوی په بیه ترسره کوو . مونږ د ایډیال لپاره د اقتصادی ارتیاو د اجبار پنه وړاندی مقاومت او فعالیت کوو . له نیکه مرغه زمونږ غریزی غوښتنی په خپله داخلی او بیولوژیکی اجبار لری ، څرنګه چی د دغو غرایزو اقناع او اشباع د ژوند د بقا او پایښت لپاره هم ضروری ده نو دیته اړیو چی ددغو غرایزو غوښتنوته مثبت ځواب ووایو که څه هم کوم بیولوژیکی اجبار وړپوری تړلی نه وی خو د دغه اجبار له شته والی سره سره هم مونږ د هغوی اقناع او ارضا یوازی له هغوی نه دراو لاړسو اجبار لپاره کاو نه کوو بلکی د دی لپاره پی کوو چی د خپل ایډیال لپاره کار وکړای سو زمونږ

داهم د مارکسیزم مرسوغات ؛ چې کوونډاسی کسان یې بې کوره کړی دی .

د دی ادعا ثبوت دا دی چی که داسی نه وی نو هرکله چی ز مونږ ایډیال دا غوښتنه کړیده چی له نظره یی و غورځوو ، نو مونږ داکار کړیدی . که ز مونږ د ایډیال غوښتنه دا وی چی مونږ یوځه قربانی ورکړو نومونږ په دغه لاره کی هر ډول اقتصادی گټی تر پښو لاندی کووا وله هر ډول غریزی غوښتنو سره مخالفت کوو هر ډول سرښندنه کوو او حتی د خپل ژوند بایللوته هم چمتو کیږو پرته له دینه چی دی مسئلی ته پام وکړو چی زمونږ ایډیال سم دی که ناسم لوړ او شریفانه دی که تیټ او رذیلانه ، یوازی د ځان غوښتنی پرښتې ولاړ دی او که دولس غوښتنی ، په هرچاکی چی د پانګی او شتو د را ټولولواو ساتلو هیله او غوښتنه موجوده وی ، نو لامل پی دا دی چی په انسان کی د ژوند د بقا او ساتنی غوښتنه موجوده ده ځکه هغه بنیادی اقتصادی ارتیاوی چی د ژوند بقا تضمینوی ، هغه خو په بشپړه توګه اقناع سویدی نو په داسی حالت کی چی یوسړی وروسته له دینه هم چی په بشپړه توګه په دی پاډه دی چی دی او کورنی به پی په ګرد ژوندکی هم د ژوندانه د بنیادی اقتصادی ارتیاولهستونزو

سره مخامخ نسی او بیایی هم دپانګی تولولو ته سولی وړی دی دا په حقیقت کی د ده د بنیادی اقتصادی ارتیاو غوښتنه نده ، بلکه د ده د ایډیالونو غوښتنه په نامه توګه په کار اچول سویده یا په بله ویناله وسیلی نه یی غایه او هدف جوړ کړیدی ، په دغه راز حالت کی د پانګی را تولول او ساتل په خپله د ده لپاره د لوړ ایډیال حیثیت غوره کوی .

دولړی غریزه د ایډیالونو ترغریزی لاندی تپته پوری کی ده

په دی کی شک نشته چی د انسانی ژوند په تاریخ کی دولړی غریزه او غوښتنه د ایډیالونو ترشاشتی مخکی پیدا سویده ، ایډیالونه یواځی په انسان پوری مختص دی دولړی غریزه په حقیقت کی هغه وخت منځ ته راغلی ده چی لومړنی حیوان د خپلی پرمخ پیدا سو د انسانی ټولی د ژوند په تاریخ کی هم دولړی غریزه هغه وخت مینځته راغلی وه چی ایډیالونو لا خالته یو داسی واضح شکل نه و غوره کړی چی له غریزی غوښتونه یی توپیر وسی . خوسره له دی هم د ایډیالونو له غوښتنی نه دولړی د غریزی تقدم مور ته د تکامل ( ) د قانون له مخی دارا ښی چی دولړی غریزه د ایډیالونو په وراندی د یوی ډیټی پوړی خو-و ګټورې وسیلی حیثیت لری . دا خکه چی تکامل ( ) باید تل د یوه غوره او عالی څیز په لوری په حرکت کی وی .

د تکامل پروسه او جریان د یوی ونی له ودی او تکامل سره ورته والی لری ، کله چی مور د تکامل په دغه جهت کی پرمخ څونو په دی لړی ډیرو ګران ببه اوارخښتنا کونتاینجوته رسیږو ، مور خپلی وارې کارونه د دی لپاره سرته رسوو چی لوړو نتاینجوته پری ورسیږو په دغه راز پروسه کی ز مور آره موخه هماغه لوړه نتیجه او هدف وی ، که څه هم هغه د یولړ کارونو او عملیولړ سرته رسولو ته وروسته را څرګندیږی همدغه مثال بیا په و نه بڼه تطبیق کیدای شی ، سره له دی چی ګلان ، میوه او تخم په ونه کی تر هر څه وروسته وده کوی او څیږی ، خو دنیالی له اینبودلو څخه دودی له کولو نه ز مور هدف ، ګل ، میوه او دانه وی چی په ونه کی تربل هر څه با ارخښته محصول دی . دوی دودی ټوله عملیه د همدغه هدف (با ارخښته محصول) د لاسته راوړلو لپاره سرته رسیږی .

همانګی چی په حیوانی ټرۍ کی د غریزو غوښتنی د مادی پرقوانینو باندی وا کمنی درلوده د ایډیالونو غوښتنه هم په انسانی مرحله کی د غرایزو پر قوانینو وا کمنی لری.

هغه غوښتنه چی ژوندانه دتکاملی قانون پر بنا په انسان کی وده کوی هغه باید د انسان په غوښتنو کی ترټولو لوړه او حاکمه غوښتنه وی .

دغه نظر یوازی یوه فرضیه او تیوری نده بلکه مور په رښتینه د خپل ورځنی ژوند په تجاربو کی ډیر ځله لیدلای سو خلکو ډیر ځله په وګړیزه او ډله ایزه توګه خپلی

پاتی په (١٠١) مخ کی

وحدت و یکپارچگی در تیوری و عمل

محمد معروف «فروغگر»

نفاق چیست و منافق کیست ؟

حضرت رسول ﷺ : پیامبر بزرگوار اسلام فرماید :

اربع من کن فیه کان منافقا خالصاً ومن کانت فیه خصلة منهن ، کانت فیه خصلة من النفاق حتی یدعها :

اذا اتمن خان ــ

واذا حدث کذب ــ

واذا عاهد غدر ــ

واذا خاصم فجر ــ

(متفق علیه ؛ بروایت عبدالله بن عمرو)

ترجمه ؛ اگر چهار خصلت در وجود کسی سراغ شود منافق سره است و اگر خصلتی از این چهار خصلت در کسی وجود داشته باشد ــ در وی خصلتی از نفاق است ؛ تا آنگاه که ترکش کند :

۱ــ هنگامیکه امین گرفته میشود ، خیانت کند .

۲ــ و وقتیکه سخن گوید ــ دروغ گوید .

۳ــ و در اثنائیکه پیمان کند و وعده نماید نیرنگ بازی نماید (بوعده وفا نکند) .

٤ــ و گاهیکه پرخاش کند ، دشنام دهد و تجاوز کند .

